د موسکا ژباړه او ليکنه

# ننن ن او د چارلي چاپلين کومې ي !




زموږ د نن ورځې نړۍ د لوړو، جګړو، او د لويې غوښتنو په يوې واقعي انساني تراژيدی باندي اوښتې ده. ددې نړۍ ارت ميدان اوس د کوچنيانو د پاچا وزيرک د بازيو په نړۍ والې لوبې باندي ګرځېدلې دی . هر څه چې کيږي بس د ولسونو په سترګو کې خاوري اچول دي ، د چل، فريب او بازيو نړۍ ده. ودې بازيو او فريبکاريو ته خو ښېلا ښېل " انساني او بشري " توجيهات ورکول کيږي ، خو دا د بني آدمانو د يوه پوښې نړۍ بس اوس د يو څو تنو په واک کې راغلې او د بوش غوندي ماجراجويه انسانانو په ګرو کې راکښېوتې ده . دلته و هر څه ته ترووريستي شجرې جوړيږي او وهري نړۍ والي ستونزې ته د ولسونو په سترګو کې خاوري اچول کيږي. دې ته بيا په يوښتمې پېړۍ کې غربې ارزښونه وايې، ډيموکراسي او بشري حقونه وايې ! !

ددې ټولو بازيو نه چې څوک تېرسي، نو درواني مياشتي يعني د اپريل ۱۶ مه نېټه د تيري پېړۍ د تياتر دستر او نابغه انسان چارلی چاپلين دزېږېدو ۱۱۸ مه کاليزه وه. هغه چارلي په خپله هنري کوميډيو کې د نن ورځي د بشري تراژيديو اټکل کاوه. چارلی چاپلين چې په کال ۱۸۸۹ په همدې ورځ د لندن د غريبانو په يوه سيمه کې وزېږېد او دژوند بهير ، هغه داسي دهغې زمانې د انسانانو د محروميت دانعکاس و ننداري ته را کښې ايست چې راورسته يې خپل ټول ژوند او خپل ټول هغه خدايی استعداد چې په کوميک هنر کې يې ور په برخه کړی وو هغه يې د نړۍ د مظلومو او خواريکښو انسانانو څخه ددفاع او دانسانيت ولوړ مقام ته د درناوی په خاطر و کاراوه .

چارلی چاپلين بې له شکه د سينما دنوابغو څخه يو ه نامتو څهره وه . هغه کله چې د خپل شهرت او بريالیتوب په اوج کې ځای درلود نو د اوناا‌ونيل سره يې واده وکړ. دهغې نه ۷ يا اته اولاده پيدا سوه. دهغو نه يوازي يوه لور چې جرالدين نومېده او هنري استعداد يې د خپل پلاره څخه په ارث وړی وو ، د خپل پلار غوندي دشهرت او اتبار خاونده سوه . څو کاله مخکې تر دې چې نوموړې د هنر ونړۍ ته ګام کښېږدي نو چارلي هغې ته يو ليک و لېکه چې د نړۍ د ډېرو جذابه او شورانګېزه ليکونو په کتار کې يې ځای پيدا کړ. دغه ليک بې له شکه هر لوستونکی په ژور سوچ کې اچوي او درواني نړۍ وپېښنوته يې و تأمل ته را بولي.

لاندي متن د هغه ليکني ځيني برخي دي چې د غه د سينمايی هنر نابغه چارلي چاپلين و خپلي لور جرالديني ته يې ليکلي وو :

لوري ! دلته اوس شپه ده، يوه تکه توره شپه او زه هم ستا څخه ډېر ليري يم ، بيخي ډېر ليري، خو ستا انځور زما د ميز پر مخ باندي پروت دی، ستا عکس دلته زما په زړه کې هم ځای لري، خو ته چيري يې؟ زه پوهېږم او داسي انګېرم چې ګواکې دشپې په دغه چوپتيا کې، ستا دقدمو آواز لا اورم. دژمي په دغه تورو شپو کې زه ستاپه سترګو کې دستورو ځلا وينم. ته هلته د شانزه ليزه دباشکوهه تياتر پر مخ باندي خپل هنري استعداد ښکاره کوې؟ اورېدلي مې دي چې په دې نوراني او باشکوهه ننداره کې ته د يوې اسيري شهزاده ګۍ نقش لوبوې.

زه خو وايم لوري ، همداسي د پاچاد شهزاده ګۍ غوندي واوسه، يوځلانده ستوری سه اوتل وځلېږه خو که د نندار چيانو د تحسين او شاباسۍ د قه قه خنداوي او که د هغو خوشبويه ګلانو د مستۍ عطر چې تاته رالېږل سوي دي که دغه ټوله تاته دهوښياری يوه موقع برابره کړه نو په يوه ګوښه کې آرامه کښېنه، زما ليک ولوله او دخپل پلار و خبرو ته غوږ سه. زه ستا پلار يم جرالدينی !



د نندارچيانو د چک چکو انګازې به ښايی کله تا و آسمانو ته و خېژوي، همغلته هم ولاړه سه ! خو کله بيا ومځکې ته هم را شوه سه، او د خلکو د ژوند تماشا وکړه؛ د کوڅو دهغه دوره ګرده رقاصو ننداره وکړه چې په وږي نس نخيږي او پښې يې د غربت او بېنوايی څخه رېږدي؛ زه هم يو دهغو څخه وم، ما هم د لوږې مزې څکلي دي، ما هم د بې کورۍ درد حتی تر هغوی نه زيات ګاللئ دئ. ما هم دهغه ګرځنده پلورونکي مسخره چيانو د حقارت رنځ احساس کړی دئ چې په زړه کې به يې غرور د يوه بحر په څير موجونه وهل خو د خودخواهه لارويانو د خيرات صدقې به هغه پکښې و چو وله. ددې ټولو سره سره زه لا ژوندی يم. ستا دنامه سره يو ځای زما نوم هم راځي، چارلي چاپلين !

ما په همدغه نامه څلوېښت کاله د مځکې پر سر ډېر خلګ و خندول خو دهغوی د خندا نه زيات ما ډېر وژړل .

لوري ، په کومه نړۍ کې چې ته اوسې، يوازې د رقص او موسيقي نړۍ نده . کله چې ته په نيمه شپه کې د تياتر د باشکوهه سالون څخه راوزې نو يوه لحظه دې دهغه بډايو او ثروتمنده ننداره چيان څهره چې ستا ستاينه کوي هېره کړه. دهغه ټکسي چلونکی حال و پوښته چې تا وکورته رسوي، دهغه دمېرمني حال و پوښته چې ښايي اوميندواره به وي او د خپل ماشوم دپاره به کالي نه لري ، د مېره په جيب کې يې په پټه څه پيسې کښېږده .

کله کله په ښاري سرویسو او یا میټرو کې هم و ګرزه، خلګ و ګوره، بوري میندي او یتیم ماشومان تر سترګو تیرکړه او لږ تر لږه په ورځ کې یو ځل د ځانه سره ووایه چې « زه هم دهغوی غوندي یو څوک یم» هوکې لوري، ته هم دهغو غوندي یو څوک یې او د هغونه زیاته نه یی ! هنر مخکې تر دې چې انسان ته د الوتلو دپاره دوه وزرونه ورکړي نو زیاتره یې دوې پښې ور ماتوي . هر کله چې ویوه داسي ځایته را ورسېدلې چې تاته ګني تر خپلو نندارچیانو ځان لوړ و ښکارید ، نو هماغه لحظه صحنه پرېږده اوژر تر ژره په یوه ټکسي کې د پاریس و مرکز ته ځان ورسوه، زه په هغه ځای کې ښه بلد یم. د پېریو راهیسي هغه د کولیانو زانګو وه هلته به د ځان په شانی،ډیري رقاصې ووینې ! چې تر تا به هم ډېري ښایستې وي ! اوترتا به هم ډېري مغروري ! خو په هغه وخت کې لوري په دې خبره اعتراف وکړه چې تل داسي څوک سته چې تر تا ښه ناځي او تر تا ښه هم هنر لري، په دې خبره دي ښه سر خلاص کړه چې د چارلي په کورنۍ کې هیڅکله داسي یو ګستاخ څوک نه وو چې و یوه ګاډۍ وان ته، او یا د سن د رود دغاړې و یوه فقیر ته دي په قهر سي او هغه ته دي سترګي رډې کړي.

هر کله چې دوه فرانکه خرڅوې نو تل داسي سوچ وکړه چې دریم فرانک یې په تا پوري اړه نلري، دغه باید دیوه ګمنامه سړي مال وي چې نن شپه وهغه ته اړتیا لري. که دپېسو او سیکو په هکله ستا سره رغېږم نو دا ددې دپاره ده چې ددې زمانې د کسانو د چل او فریب په رموزو زه ښه آګاه یم. ما ډېر وخت کیږې په سیرک کې تېر کړی دئ اوتل مې دهغو په خاطر دزړه ویني خوړلې دي چې د نازکو رسیو پر سر باندي به روان وه .....

چارلی چاپلین دهغه خدایی نبوغ په درلودلو سره د نړۍ دسینما په ډېر اوچت ځای کې موندلی وو. د نړۍ په میلیونهاوه خلک دهغه د شپو ، لکړې او لنډ پطلون سره آشنا وه. هغه په خپل احساس سره دومره توان درلود چې خپل نندارچیان و خندوي خو د خپلو سترګونه یې اوښکي را و بهیږې . هغه په دې توانېدلی وو چې ځان د خپل زړه په غم کې لاهو کړي خو د میلیون هاوو انسانانو ژوند چې لوږه او بې عدلي یې د مرګ و پولي ته پوري وهي، د هغوی حالت ځرګند کړي.

د ژوندانه سختو څپېړو او د چارلي چاپلین ژوره هوښیاري د هغه څخه یو ولسي او مردمي هنرمند جوړ کړی وو . داسي هنرمند چې دانساني غم او درد سره آشناوو .حتي ثروت اوشهرت هم دهغه څخه انساني درد او پر خوږمن انسان باندي دهغه د باور اومیني احساس، دهغه نه وا نه خیست. هغه داسي هنرمند وو چې د شلمي پېړۍ و ډیکتاټورانو ته یې د« لوی ډیکتاټور» په فلم کې د انسانیت او اخلاقو یادونه کوله. چارلي چاپلین د هر هنرمند نه زیات په دې توانېدلی وو چې په بشري ټولنه کې دبې عدالتۍ ښېلګې پر سټېژ باندي و ننداري ته راوباسي. کله چې هیټلر د المان صدراعظم سو نو د چارلی چاپلین د ډیکتاټور فلم یې و نړۍ والو ته ښکاره کړ او هغه خطرونه یې بربنډ کړل چې نړۍ یې تهدیدوله.

چارلي چاپلین خپل ټول فلمونه د انسان او انسانیت سره د ناپایه میني په احساس سره جوړ کړي وه او هیڅکله یې داسي نه انګېرل چې په دې خاطر به تر تحقیق او پوښتنی لاندي راسي او یا هغه دي د

کمونیستي محافلو سره د اړیکو د درلودلو په جرم متهم کړي .
په ۱۹۵۰ کلو کې د امریکا په ارتجاعي محافلو کې داسي یو کمپاین راشروع سو چې د روڼ اندو په ښکار پسې یې را اخیستې وه. په سوو زره کتابونه وسوځول سوه. په دې لړ کې چارلي هم تورن سو چې ګني هغه یو کمونیست دی. یوازي هغه نه بلکه په لسهاو نور هنرمندان او لیکوالان لکه همینګوی په دې تور تورن سوه چې کینې اړخي او کمونیستي دریځ لري. چارلي چاپلین د تیري پېړۍ د سینما ستر لوبغاړی دخپل هنري کلونو په اوږدو کې دیوه بې مثاله ستوري په توګه دسیاسي اتهاماتو سره سره یې لا نور هم د ولسونو په زړو کې ځای پیداکړ او دخلګو زیاته پاملرنه یې و ځانته را وګرځوله . بلاخره د کال ۱۹۵۲ په سپټامبرکې د امریکا لخوایې د تبعید حکم صادر او په همدغه کال کې چارلی د خپلي مېرمني اونا اونیل سره دېته اړ سوه و سویس ته کوچ وکړي.



هغه رسمي اسناد چې په کال ۲۰۰۲ کې خپاره سوه ښیئ چې د بریتانیا دولت درست شل کاله و چارلی چاپلین ته دغه دسینما ددنیا و نابغه ته د شوالیه ګری دلقب د ورکولو څخه ډډه کړېوه. ددې کار وجه هم د چارلي چاپلین د سیاسي باورو او د هغه د شخصی اخلاقو په خاطر بیان سوې وه. پر هغه باندي د کمونیستانو سره د خواخوږي تور لګېده کوم چې چاپلین به تل دهغه څخه انکار کاوه.. و چارلي ته دهغه دمرګ نه دوکاله مخکې یعنی په ۱۹۷۵ کې وهغه ته د سر (Sir ) لقب چې دانګلستان لوړ لقب دی ورکړل سو.

چارلي چاپلين دنوی عصر هغه تصویرونه چې په کومیکه توګه یې و ولسونو ته ښودلي دي ، پر هغه باندي غیرله پوز خنده بل څه نلري. هغه په دې پوزخند کې ددې سره چې پخپله خاندي خو یو عظیم غم یې هم پر وجود باندي سایه غوړولې ده، هغه دغه غم بیا په خپل کومیډي هنر کې وولسونو ته بیانوي. دهغه سپېڅلې څهره چې هیڅو خت د پامه نسي غورځېدلای پر همدغې موجوده صنعتي نړۍ باندي په ډیري هنر مندۍ سره ملنډي وهي او په پای کې همدا سیستم ددې نړۍ د بقا دپاره یوه لویه خطره ګڼي.

د چارلي چاپلين سینمایی آثار په کراتو سره د نوي نسل تر سترګو تېر سوي دي، خندولي یې دي خو د ډېرو په سترګو کې یې اوښکي هم رابهولي دي. داځکه چې د چاپلين سینمایی سوژه په عین حال کې چې د طنز او کومیډي نه ګڼه اخلي هغومره بیا د بشر دتراژدی او دهغه د هویت د ورکېدو نه هم داستانونه بیانوي.

نن سبا چې د سرمایې جنون په نړۍ کې ودې او سني ښور ماښورته لاره پرانیستې ده، څوک چې دانسان او انسانیت و مسیر ته ګوري نو په دې مسیر کې هر څه د شیطنت او فریب په ترازو کې تلل کیږي ، هر څه د وحشت او بربریت خواته درومي. په داسې یوه حالت کې نن یو ځل بیا نړۍ وال ویوه نوی چارلي چاپلين ته اړتیا لري تر څود نړۍ روان شیطنت په خپل هنري نندارو کې د پردې پر مخ وخلګو ته را بربنډ کړي. په هغه کې هم د پاکستان د پنجاپیانو کارنامې را وسپړي اوهم په واشنګټن او لندن کې د بوش او ټوني بلیر د شیطنت شجرې و نندارې ته راوباسي. نن په رشتیا هم ویو بل چارلي ته اړتیا سته چې په یوښتمه پېړۍ کې د دې جنایت کاره سوداګرانو پټ رازونه په هنري توګه و وولسونو ته وښیئ.
چارلي چاپلين د کال ۱۸۸۹ نه چې و نړۍ ته یې سترګې روښي کړې بیا تر کال ۱۹۷۷ پوري چې ددې نړۍ نه وکوچېد ، د خپل باثمره هنري ژوند په بهیر کې یو لوی ریالستیک هنري او اخلاقي داستان پرې ایښی دئ.